انجنیر عبدالصبور صافی ۲۰۱۸/۰۵/۱۵

# یو قدم یو آواز انقلاب انقلاب

(لمړی برخه)

ظلم ناروا او تیری چې ترحده واوړي بیا دمرګ او ژوند ترمنځ واټن لندشي دا ذهنیت د دې سبب کیږي چې صبر او زغم خپل مفهوم له لاسه ورکړي او له ظالمه د کسات اخیستولاروچارو لټونته معطوف شي او د ځان ژغورولو لپاره د هري ممکنه لارې په لټه کې شي ترڅو خپل غچ له غلیمه ترلاسه کړي، چې همدا کار د دهٔ حق بللکیږي او حق هغه څیز دی چې انسان یا دحقوقی لارو چارو او یائې د مټ په زور تر لاسه کولی شي، په اصل کې حق توان، قدرت، اختیار، او تسلط دی، حق د حق د خاوند هغه قدرت، توان او امتیازدی چې نور کسان ئې نلري یعنی کوم امتیاز او ګټه چې د حق په خاوند پوري اړه لري باید د نورو کسانو له خوا د هغه د امتیاز، د هغه د حقونو دهغه د مال چه په ده پوری اړه لري احترام او رعایت وشي او په هغه باندې له تیري څخه ډډه وکړي، آلمانی حقوق پوه « وینشیلد» وایي چې حق یواځې په غوښتلو لاس ته نه راځي او یا په بل عبارت حق صرفاً د غوښتلو په معنا ندی بلکې دحق اصلي مفهوم د حق د تأمین قدرت او توان دی داسې قدرت او توان چې دحق خاوند ته د حق د تصرف او لاس ته راوړلو ځواک بخښي ترهغو چې دحق خاوند دخپل حق د تصرف اوترلاسه کولو واک او قدرت ونلري نشي کولی د خپل حق څخه د خپل ځان په ګټه استفاده وکړي او یا ئې د خپل ځان لپاره په خپله خوښه استعمال کړي، په حقیقت کې ویلی شو چې د یو چا حقوق هغه وخت په عمل کې تحقق موندلی شي چې:

- ۱- دحق خاوند د خپل حق دلاس ته راوړلو قدرت اوتوان ولري.
- ۲-دغه قدرت او توان وکولای شي دحق خاوند ته د خپل حق د تصرفی امکانات برابر کړی.
- ۳- دحق خاوند وکولای شي د خپل حق څخه ببله کومي وېرې استفاده وکړي او پخپله خوښه ئې استعمال کړی شي.

دحقوق پوهانو د نړی د سترو فیلسوفانو د نظر سره سم حق داسې تعریفولی شو«حقوق د حق مجموعه او د هغو کُلي او الزامي قواعدو ټولګه ده چې د نظم د ایجاد او د عدالت د استقرار په خاطر په ټولنیز ژوند حکومت کوي او د هغې اجرا د دولت له خوا تضمینیږي» په پورتني تعریف کې څلور اساسي عناصر ترسترګو کیږي دغه څلورګوني عناصر د حقوقو د تعریف جوهر جوړوي چې د کلیت، الزام، د اجراضمانت اوقلمرو څخه عبارت دي، اوس که په یوه ټولنه کې دولت ظالم وي او د وګړو حقونه تر پښو لاندې کوي او د عدالت په تأمین او اجرا کې دو ګونی چلند وکړي،



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

وګړي دا حق لري چې د خپل حق د غوښتلو لپاره لاس پکارشي مګر په داسي حالاتو کي بيا حق په منفرد ډول نشي تر لاسه کېدی نو لازمه ده چې يووالی او همغږي رامنځ ته شي، يو موټی يو آوازوچت شي او دا همغږي د هغه قوتو لخوا چې دی غږ سره هم نظره دي ملاتړ او حمايه شي نو خامخا به بريا ته رسي۰

کله چې انګليسانو د ډيورنډ معاهده لاسليک کړه نو د انګليس اقتدار د ډيورنډ د آغاړي په پښتنو سيمو زيات شو، د ۱۸۹۵ز کال کي ملاکنډ ايجنسي او په ۱۸۹۶ز کال کي د وانه او توچي ايجنسي ګاني جوړې او اداره ئي د پنجاب حکومت ته حواله شوه، سم د لاسه انګليسانو د کارنيزيونو، مانيو، سرکونو، فوزي استحکاماتو جوړول او د ديورنډ د کرښي په نښه کولو پيل وکړ، پښتنو چې ځان د دې غاړې ورونونه جدا وليدل نو بېرته د يوځای کېدو په هيله په ۱۸۹۷ز کال کي په قيام لاس پورې کړ او د «سمانا» «خيبر» او«شبقدر» کارنيزيونه د پاڅونکو ترحملو لاندې راغلل او دا حالات تر۱۸۹۸ز کال پورې دوام وکړ، امير عبدالرحمان خان چې د معاهدې ترتاثيرلاندې تللی و نو له دې پاڅونکوسره ئي ونشوه چې مرسته وکړي نو ځکه پاڅون ناکام شو۰

کله چې د بريطانوي هند وايسرا «لارد کرزن» وټاکال شو د ۱۹۰۱زکال کي د هزاره او څلورد سند سيند لوېديزې غاړې پښتانه چې پېښور، کوهاټ، بنو او د اسماعيل خان ډېره وه له پنجابه جلا او پنځه قبايلی سيمو ايجنسی ئي د شمال غربی صوبې په نوم سره يوځای کړې کله چې په ۱۹۵۵زکال کي پاکستان جوړشو صوبه سرحد ئي پاکستان سره مدغم کړ، «لارد» له نظره دصوبه سرحد جوړول او هغه په پاکستان کي مدغمول د دې لپاره وکړل چې له يوخوا د افغانستان د زړه نه جدا شوي ټوټي ته د پاکستان د خاورې په حيث قانوني بڼه ورکړي او د بلي خوا د بريطانوي هندي امپراطوري ستني مسبوطی کړي۰

انګليسانو ټول کوښښ دا وه چې د هند مسلمانان او پښتانه مسلمانان له علم و تعليم و تمدن نه لرې وساتي د پښتنو په سيموکي بې له ديني مدرسو بله هېڅ تعلمي، اقتصادي، تخنيکي اوپراختيايی کومه پروژه عملي نشوه او همدا سياست ورسته له انګريزه پاکستان هم وساتله چې د پښتنو په ژوندکي سترې بدبختی منځته راوړې، پنجاب په دې هم بسيا ونکړه پښتانهٔ د ترهګرو په نامهٔ زنداني کوي، وژني او تريتم کوي ئي، ځکه غواړي چې له يوې خوا د پښتنو غرور او وطنپالني حس وځپي او له بلي خوا خپل تسلط په قبايلي او پښتنوسيمو ټينګ کړي، چېرته چې فقرفلاکت، وراني او ويجاړې دي هغه په پښتنو او بلوڅوسيموکي شتون لري چېرته چې پوهنتونونه، فابريکي صنعت، اقتصاد او تکنالوژي ده هغه په سند وپنجاب پورې تعلق نيسي۰

ځوانان مو قتل کيږي کورونونه مو ورانيږي پښتون پکي غرقيږي

دا څنګه آزادي ده !!؟؟

دا هغه غږ دی چې نن غيرتي پښتنوځوانانو وچت کړی ده **د دې غږ ملګرتيا د هر پښتون ملي او ايماني دنده جوړيږي، که پښتانه لاهم د زماني قهر ته چې له زمان نه بېرته پاتي او د پنجاب جبر ته چې د بی اتفاقي، ظلم او ستم سپيره ئي ورکړې ده، پټه خوله او غلي پاتېکيږي په يقين چې د پښتنو وجودی شتون به د يو باطور ملت په حيث د پنجاب په منګولو د انقراض په لور لاړشي،** دا څه د ټوکو او مسخرو خبرنده دا يوستر عينی حقيقت ده چې د کالو کالو را پدېخوا پښتانهٔ پکې ښکيل دي فقد بايد خپل سترګي خلاصي کړي اول ځانته بيا ماحولته او بيا جهانته په رڼو سترګو وګوري خپل حالات وڅيړي او د پنجاب د کړنو انداز واخلي هلته ده چې بيا د حق اخيستلو لپاره يوه لار

د اتفاق او پاڅون ده او بس، نو ځکه غوره گڼم چې په لنډه توگه نورو غورځنگو او انقلابو ته یوه لنډه کتنه ولرم خو تر هر څه ړاندی د پښتنو د عدم تشدد مبارزو ته یوه کتنه :

**د فخرافغان پاچاخان د عدم تشدد پالیسي مقصد او آغیز:**

له نن څخه اتیا کاله مخکې د خان عبدالغفارخان په مشرۍ د بې وسلې پوځ زرگونه غړي په پېښورکې راټول شول او د برتانوي استعمار پرضد یې لاریون وکړ. برتانوي پوځیانو پردې غونده ډزې وکړې خو امن خوښوونکو پښتنو د ډزو باران ته خپلې سینې ونیوې، او په دې ډول پاچاخان له گاندي او د عدم تشدد د فلسفي له اصولو سره خپله ژمنه په عمل کې ثابته کړه. دا د خان عبدالغفارخان، په مشرۍ د عدم تشدد د پوځ د فعالیت پیل و.

له ۱۸۹۰ز کال څخه تر ۱۹۸۷ز کاله چې د باچاخان د ژوند کلونه دي په افغانستان، سیمه او نړۍ کې مهم ټولنیز او سیاسی حوادث پېښ شول. د مثال په ډول په ۱۹۱٤زکال کې لومړۍ نړیواله جگړه پیل شوه، په ۱۹۱۹زکال کې افغانانو له برتانوي استعمار څخه خپلواکي واخیسته، په ۱۹٤۰ کې دوهمه نړیواله جگړه پیل شوه، په ۱۹٤۷ کې د هند استقلال تر لاسه شو او په **همدی کال کې د سرطان دانه پاکستان هم جوړ شو.**

د لومړۍ نړیوالي جگړې د پیل پرمهال چې د باچاخان د ځوانۍ دوره وه هند او د پښتنو د استوگنې ډېری سیمې د انگریزانو تر مستقیمې واکمنۍ لاندې وې. دا وخت هم په افغانستان او هم په هندوستان کې د آزادۍ لپاره مبارزه روانه وه. پاچاخان په هند او پښتونخوا کې په دغو مبارزو کې چې اصلي محور یې د عدم تشدد فلسفه وه، فعاله ونډه درلوده٠

له لومړۍ نړیوالي جگړې وروسته و چې د برتانیې او نورو اروپایي استعماري هیوادو په مستعمرو کې د خپلواکۍ غوښتنې غورځنگونه پیل شول، په دی لړ کې په افغانستان کې هم د آزادي غوښتنې نهضت پیل شو او په **۱۹۱۹ کال کې افغانانو د امیرامان الله خان په مشري له انگریزانو څخه خپله خپلواکي واخیسته،** دا وخت پاچاخان افغانستان ته سفرونه پیل کړل څو خلکو ته د مینې او یووالي پیغام ورکړي.

هندی لیکوال او ژورنالیست ،،اننددسهای،، چې د افغانانو تاریخ، او د څو وروستیو لسیزو ژوند یې له نژدې څارلی له گاندي سره د پاچاخان د هڅو او د عدم تشدد د فلسفي د پراختیا لپاره د ده د فعالیتونو په اړه وائي:

((گاندي یو ببساری شخصیت و چې په زمانو کې یوځل راځي. گاندي یو ډېر پراخ نفوذ درلود، خو دقیقاً گاندي ته ورته د ده معاصر، خو تر هغه **یوڅه ځوان یو ډېر لوی او ستر پښتون انسان و چې پاچاخان یا عبدالغفارخان نومېده.** ده ته په **خپله گاندي د سرحد د گاندي لقب ورکړی و.** پاچاخان هغه پښتون و، چې کلي په کلي، کور په کور وگرزېد او پښتانه یې یوه کړل چې بایدخپلې وسلې لیرې وغورځوي. دۀ همدا راز ننني افغانستان ته سفرونه وکړل او هلته ئې د سولې لپاره خپل ستر پیغام ورساوه او دا پیغام خلکو ته په زړه پوري و، دۀ له مینې پرته له خلکو بل هېڅ نه غوښتل.))

د افغانستان له خپلواکېدو سره سم او وروسته له دې چې د نړۍ هېوادونو یې استقلال په رسمیت و پیژند، خان عبدالغفارخان افغانستان ته ولاړ او هلته یې له غازي امان الله خان او نورو دولتي مشرانو سره وکتل.

له دې سفر او کتنو وروسته **پاچاخان پریکړه وکړه چې د آزادي د تر لاسه کولو لپاره ضروري ده چې د پښتنو په ټولو سیمو کې خلک له سواد څخه برخمن شی. پاچاخان په دې نظر و چې د تشدد د مخنیوي یوه اغېزمنه لاره تعلیم**

**دی.** همدا و چې پاچاخان د پښتنو په بېلابېلو سیمو کې د ښونځیو او مدرسو په جوړولو پیل وکړ. ده په دې برخه ډېر زیار وایست او ډېر کړاوونه یې وګالل، خو په پای کې یې ډېر بریالیتوبونه هم تر لاسه کړل، **د پاچاخان وینا ده چې ویل به یې، زموږ فرض له دنیا نه ظلم ورکول دي او مظلوم له ظالم نه خلاصول، حتی که ظالم زموږ ورور او مسلمان هم وي** او دا دعلم او پوهې په رڼآکې ترلاسه کېدی شي.

باچا خان په ۱۹۴۷کې دپاکستان له جوړېدو وروسته دعمر تر پایه د خپل قوم د حقوقو د لاسته راوړلو لپاره د پاکستانی واکمنانو پر ضد مبارزه کوله، ده هېڅکله خپلو پلویانو ته د وسله والې مبارزې سپارښتنه ونکړه، خو له دې سره سره یې د خپل **عمر زیاته برخه د پاکستان د حکومت په زندانونو کې تیره کړه.**

هاخوا ګاندي له برتانیې څخه د هند د خپلواکۍ د مبارزې پرمهال د خلکو سیاسي او مذهبي مشر و. د ظلم پرضد د ګاندي د مبارزې اساس وسله وال مقاومت نه، **بلکې له حاکم نظام څخه دخلکو پراخه بې اطاعتي وه.** دا فلسفه د عدم تشدد پر بنسټ ولاړه وه. له همدې لارې د هند خلکو وکولای شوای چې له برتانیې څخه د خپل هېواد خپلواکي واخلي او همدا مبارزه وه چې په ټوله نړۍ کې د خپلواکۍ او خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خلکو ته د الهام سرچینه شوه، هندی لیکوال او ژورنالیست ،،اننندسهای،، د جنګیالیو پر دې ډلو چې برتانوي استعمار تروریستان بلل او ګڼ شمېر یې اعدام کړل د ګاندي د نفوذ موضوع ته اشاره کوي:

((له ګاندي مخکې په هند کې چې طبعاً سوله خوښوونکی هېواد دی، هم د ځمنو وطنپالو ځوانانو داسې ډلې وې چې له برتانوي واکمنۍ سره د مبارزې لپاره یې وسلوالې مبارزې ته مخه کړې وه. برتانویانو د دوی ګڼ شمېر د تروریستانو په نوم اعدام کړل. د هند د آزادي بخښونکي نهضت ګڼ شمېر مشران د تروریستانو په نوم یادېدل. دوی ځکه اعدام شول چې وسله یې اخیستې وه. خو ګاندي تر دوی ډېر زیات او پراخ نفوذ درلوده. او ده حتی پر دې کسانو، چې د تروریستانو په نوم یادېدل، هم نفوذ درلود.))

د ګاندي د عدم تشدد د مبارزې یو مثال د ۱۹۳۰ کال په مارچ میاشت کې د څلور سوه کیلومتره په واټن پراخ سوله ییز لاریون و. دا لاریون په تاریخ کې د مالګې د مارش په نوم ثبت دی چې د هند د خپلواکۍ په مبارزو کې یې ټاکونکې ونډه لرله او په دې هېواد کې د برتانوي استعمار پرضد د سوله ئیز مقاومت پیل ګڼل کېږي، دا چې مبارزه باید کوم شکل ولري نظرپه وخت او شرایطو پورې اړه لري چې لاندې بحث کې به ورته لنډه کتنه شي.

د لمړۍ برخې پای

نوربیا